DA AFGHANISTAN BANK

**د افغانستان بانک**

آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی

معاونیت نظارت عمومی و مقررات

مدیریت ارشد نظارت خارج ساحه

شماره: ۴۸۲۹ ۴۳۶۲ ۱۸/۱۴۳۵۲

نېټه: ۵/۳/۱۴۴۷ ۱۴۰۴/۲/۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو قدرمنو اتحادیو ته!**

السَّلامُ عَلَيْكُم ورَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكاتُهُ

ماهیت: متحدالمال

**موضوع: د تایید شوو معلوماتي ټکنالوژۍ شرکتونو په اړه**

د ۱۳۳۹۳ شمېره د ۱۴۴۶/۱۱/۱۴ نېټې متحدالمال په تعقیب سره لیکل کیږي:

د صرافانو او پولي خدمتونو د قانون د پنځمې مادې د ۳ بند، لومړی فقرې پر بنسټ، د صرافی او پولي خدمتونو شرکتونه مکلف دي چې د معاملو او اړوند معلوماتو د ثبت لپاره برېښنايي سيستم ولري.

څرنگه چې د پورته ذکر شوي متحدالمال له مخې تاسو په جریان کې یاست، د صرافی او پولي خدمتونو د برېښنايي سيستم جوړونکي د معلوماتي ټکنالوژۍ ۱۲ شرکتونه د افغانستان بانک له لوري د ارزونې وروسته تأیید او له تاسو سره شریک شوي دي.

همدارنگه، لاندې دوه نور د معلوماتي ټکنالوژۍ شرکتونه هم د ارزونې وروسته د دې ادارې له لوري تأیید او ستاسو سره د لازمو کړنو په موخه شریک کېږي:

١. مهران سروري د معلوماتي تکنالوژۍ شرکت

٢. عرفون د معلوماتي تکنالوژۍ شرکت

په دې توگه، ټولو د صرافی او پولي خدمتونو جواز لرونکو شرکتونو ته سپارښتنه کېږي چې د افغانستان بانک له لوري تأیید شوو (۱۴) د معلوماتي ټکنالوژۍ شرکتونو څخه خپل برېښنايي سيستم ترلاسه کړي او د هغې د تطبیق په اړه دې ادارې ته په رسمي ډول ډاډ ورکړي.

هغه د صرافی او پولي خدمتونو شرکتونه چې د نه تأیید شوو شرکتونو څخه یې سیستمونه ترلاسه کړي وي، مکلف دي چې د تأیید شوو شرکتونو څخه د برېښنايي سيستم د ترلاسه کولو او تطبیق په اړه ژر تر ژره اقدام وکړي.

ټولو قدرمنو اتحادیو ته سپارښتنه کېږي چې پورته موضوع د ټولو صرافی او پولي خدمتونو شرکتونو سره د معلوماتو او لازمو اجراآتو په موخه شریکه کړي.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

۵/۳/۱۴۴۷

صدیق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

پناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴761 (۲۰) ۹۳ ۰۰ / ایمیا
شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / تویتر - @entralbank: